**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**لویه څارنوالي**

**د دارالانشاء ریاست**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرامینو او هدایاتو د تعقیب او نظارت آمریت**

**د سندونو د تنظیم عمومي مدیریت**

**د عادي سندونو او متحدالمال مدیریت**

**د متحدالمال ګڼه: ۱۴** **نېټه: ۱۴۴۴/۸/۲۹ هـ ق**

د عالیقدر امیر المؤمنین «حفظ الله» د ۱۴۴۴/۸/۲۸ نېټې د (۳۳) ګڼه فرمان او د دغه محترم مقام د ۱۴۴۴/۸/۲۸ نېټې د شفاهي هدایت له مخې، دا اداره په اماراتي ادارو او وزارتونو د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ مقام د ټولو حکمونو، فرمانونو او هدایاتو له تحقق څخه په تعقیب او نظارت مکلفه ده. له همدې کبله، د یاد عالي مقام د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تحقق له څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ملکي او نظامي په ګډون ټولو مرکزي او ولایتي ریاستونو ته د لاندې مواردو په اړه هدایت ورکول کېږي:

۱) د یاد متحدالمال د صدور له نېټې وروسته، په مرکز او ولایتونو کې د دې اداري ټول ملکي او نظامي ریاستونه په ټولو اماراتي وزارتونو او خپلواکو ادارو او د ملکي او نظامي په ګډون خصوصي سکتور او په ولایتونو کې د هغوی په دویمي او دریمي واحدونو د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ مقام لخوا د نافذو فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تحقق د څرنګوالي په تعقیب او نظارت مکلف دي.

۲) د یاد متحدالمال په (۱) فقره کې درج ریاستونه مؤظف دي چې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ عالي مقام د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تحقق د څرنګوالي په اړه خپل راپور نوموړي مقام ته وړاندې کړي.

**په درنښت**

**مولوی شمس الدین «شریعتي»**

**د افغانستان اسلامي امارت لوی څارنوال**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.